# په پښتو ادب کښې مغلواله

# A analysis of the Term "Mughalwala" in Pashto Literature

محمد صادق ژړک*

**Abstract**:

When the Mangoles attacked and conquered the Pashtun territory for the first time, then they ruled over Pashtun land for many centuries. During their regime they deliberately anguish (torture) Pashtuns, this injustice and inhumanly gestures of Mangoles are termed as "Mughalwala". Later on this word was frequently and symbolically used in Pashto poetry for inhumanly treatment (cruelty). In this article the topic Mughalwala (cruelty) is under discussion. In Pashtun society Mughalwala is infact the antonym of Pashtunwala.In this article the Mughalwala is describe in the light of Pashto poetry.

په پښتو تشريحي قاموس کښې مغل او مغلواله داسې تشريح شوي دي:

"مغل (magul) نر.م.ج، يو قوم دی چې اصلي ټاټوبی يې منګوليا دی"(1).

او مغلواله:

"مغلواله (magulwala) ښځ، م، د مغلو واکداري، د مغلو حکومت، ظالمانه او استبدادي حکومت"(2).

مغلواله لفظ په پښتو شاعري کښې په لومړي ځل حميد بابا راوړی دی، په دې باب حبيب الله رفيع ليکي:

"په انفرادي ډول دا هڅې رواني وې او د پښتو شاعرانو او ليکوالو په خپل خپل وخت او خپل خپل وار له خپلې خوښې او اړتيا سره سم لغتونه جوړ کړي دي او په خپلو ليکنو کښې يې کارولي دي، لکه: حميد بابا (مغلواله) د پښتونواله په تول جوړه کړه.

يو به نۀ سم مغلواله د رقيب ستا
که زوکړی وم ربښتيا له پښتني زۀ"(3)

دا ؤ مغل او مغلواله چې په لنډو ټکو کښې مې دروپېژندله، اوس سوال دا پېدا کېږي چې د حميد بابا په څېر يو نازکخياله شاعر ولې دې ته اړ شو چې مغلواله اصطلاح يې رامېنځ ته کړه. حميد

---

* Ph.D Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar

بابا یو انسان ؤ، د یوۀ انسان په توګه چې هغه کوم ظلمونه د مغلو له خوا پر پښتنو او د پښتنو پر خاوره ولیدل نو د حمید بابا په رنګه نازک مزاجه شاعر یې هم دې ته اړ کړ چې دغه ټکي ته د خلقو پام ورواړوي. اوس که مونږ انساني تاریخ ته ځیر شو نو د زورورو او وحشي قامونو او حکمرانانو د وړو، کوچنیو او شریفو قومونو د نیولو او محکوم کولو تاړاکونه او ظلمونه به له ورایه ښکاري. د نړۍ پر مخ د اسیا په زړۀ کښې پښتانۀ هغه ځوک دي چې د دوی پر خاوره او وطن باندې زورورو او وحشي قامونو لکه مغل او د پارس خلقو تل تاړاکونه او ظلمونه کړي دي. د پښتنو پر خاوره د پښتنو پر ضد تر ټولو زیات یرغلونه مغلو او د پارس خلقو کړي او بیا راوروسته انګرېزان او سکهان هم د مغلو پر پلۀ تللي دي او ځنې نړیوال او سیمه ایز قوتونه اوس هم لګیا دي پښتانۀ ژوند ته نۀ پرېږدي، خو دلته زمونږ موضوع مغلواله ده، چې د مغلو د تاړاکونو په نتیجه کښې منځته راغلې ده. له چنګېز څخه یې رانیولې تر ګوډ تېمور پورې او له ظهیر الدین بابر څخه یې رانیولې بیا تر اورنګ زېب او د هغۀ تر پاته شوو پورې پر پښتنو باندې بېلا بېل ظلمونه شوي دي، چې په انساني تاریخ کښې دغه تور څپرکی د هېرولو نۀ دی او تر څو په دې نړۍ کښې انسانان ژوند کوي، د انساني تاریخ له لمنې څخه به دغه تور داغ لرې نۀ شي.

د مغلو امپراتورۍ چې له امو څخه یې ونیسې تر هندوستانه پورې یې ځمکې په زور نیولې وې، د مغلو د ظلم او زیاتوب دغه دوره تر پنځو پېړیو اوړي نو پر یوه خاوره چې د یو ظالم قوم او حکمرانانو د ظلم دوره تر پنځو پېړیو واوړي نو لازمي خبره ده چې د دغه ظالم قوم په وړاندې به ارو مرو د خلقو او د سیمې د اولسونو نفرت زیاتېږي. پښتنو د مغلو دغه ظلم او د دغه دورې ته مغلواله ووئیل او پښتنو نۀ یوازې دغه دورې او دغه ظلم ته مغلواله ووئیل بلکې د مغلو د ظلم پر ضد یې د مقاومت سنګر تود ساتلی دی. له شمس الدین کرت څخه یې رانیولې د هوتکو او توخو تر دورې، بیا د روښانیانو غورځنګ، ابدالیان، بیا ایمل خان، دریا خان او خوشحال خټک د مغلو پر ضد ډغرې وهلې دي او همداسې په هند کښې پښتانۀ د مغلو پر ضد درېدلي دي او د جعفري پاچهۍ یې په وار وار وررنګې کړې دي.

شاهین خټک په غونچه رساله کښې د مغواله ترسرلیک لاندې یو مضمون کښلی دی، په دې اړه هغه لیکي:

"په هم دغه لړ کښې چې څۀ وخت د مغلو حکومت ؤ یا کول یې غوښتل او رنګ رنګ ناشونې ظلمونه چې د دې ملک پر اولس یې کول او د استبداد نمر یې پرې راټیټ کړی ؤ، چې د دې ملک ننګیالي اولس همدغه مظالمو ته تاب راوړ او په ایستلې سینه یې د دوی مقابله کوله، ولې چې دوی د پښتون د ازادۍ هرپ کول غوښتل او پښتون یې ازاد قام نۀ ګڼلو، پښتون چې د خپل ملت، مفاد او ترقۍ زیاته عزیزه ګڼلې ده او د ملک او د قام د سوکالۍ او ودې ورکولو په خاطر یې خطرناکې

مقابلې ته يې دانګل عار نۀ دی ګڼلی، نو پښتانۀ د مغلو دغه مظالم په مغلواله يادوي او دغه رنګه لفظ مغلواله د پښتو په شعر او ادب کښې هم ځای بيا موندلی دی او دغه مغلواله د ظلم، استبداد او ناشونې کارونو په معنو سره مستعمل شوې ده"(4).

د مغلو د دې دورې پر ضد د پښتو ادب او تاريخ پاڼې خورا ډکې دي او په پښتو شاعري کښې يې خورا ځای نيولی دی، د مغلو د ظلم قيصې په پښتو اولسي نکلونه کښې هم ورته اشارې شوې دي.

د فتح خان برېځي په نکل کښې چې شمس الدين پاچا فتح خان برېځي ته مرکه ورولېږله چې راشه روغه سره وکړو، مرکه د پښتنو دود دی، چې د چا کور ته مرکه ورشي هغوی ارو مرو مرکه مني، ځکه چې مرکه د پښتونوالي يو جز دی، خو دلته بيا مونږ د شمس الدين مغلواله په داسې ډول وينو:

"مرکه چې راغله دا يې ورته ووئيل فتح خان وئيل ښۀ دی، تاسي ورځئ مونږ به سبا درشو، مرکه ولاړه، کرمي فتح خان ته ووئيل چې زما نۀ ده خوښه، زۀ سلا نۀ درکوم. فتح خان وئيل يه زۀ ورځم، کرمي وئيل ښه دی چې ورځې نو ياران راسره ووېشه، نيمي درسره بوزه، نيمی دې يې زما سره وي، فتح خان وئيل ښه دی.

ياران يې سره ووېشل، فتح خان سره له خپلو ملګرو وررهي شو، چې فتح خان رهي کېده کرمي ناره پر وکړه:

فـتح خانـه! بـاور مـه کـړه، د مغـل پـه کلامونـه
د مغـــــل او کـــــلام پســــې تيپونـــــه

فتح خان سره له خپلو ملګرو راغلی، باچا ورته ووئيل چې که ربښتيا سولې ته راغلی ياست نو د جنګ اسباب کښېږدئ، فتح خان دوئ د جنګ اسباب کښېښودل چې نژدې راغله باچا دستي پر سپاهيانو حکم وکړ او ناره يې کړه:

لاس يـــې وتـــړ ځوانـــانو نوکرانـــو
فـــتح خـــان د پاچهـــانو ګنهګـــار دی

سپاهيان پر راوغورځېدل، د ټولو لاسونه يې وتړل، دلته فتح خان ناره وکړه:

کـرم خانـه! چـې تـا وئيـل هغـه بيـا وۀ شـوه
سـرۀ مغـل خـو مـې د لاس پـر لګېـدۀ شـوه

هلته کرم خان هوښياري کړې وه، سم په فتح خان دوی پسې سره له نورو ملګرو راوتلی ؤ، چې په دښمن باور نۀ شته، دلته چې راورسېدی که ګورې د فتح خان دوی لاسونه يې ورتړلي دي نو دۀ پر مغلو ناره وکړه:

اوس بــه جــوړ کـــړم د مغلـــو پـــر ســـر ځلـــي
چـــې ترلـــي يـــې فـــتح خـــان نـــازک لاســـونه

خو ټولو په مغلو پسې توري لښتي کړې، داسې چې يې په ګډه کړی چې ګرده يې مړۀ کړۀ او هغه چې په ځغاسته يې ځان خلاصولی شو په تاخت ځني ولاړه، کرم خان د خپلو يارانو لاسونه ورخلاص کړه، کور ته رارهي شوله، راغله ماښام فتح خان ورته ووئيل چې اوس يې نو نۀ پسې پرېږدو څو يا ګړده مړۀ نۀ شو يا پوره بری يو نۀ شو، ځکه چې دا منافقان دي، داسې بې وفايي يې وکړه پرقول او قسم و نۀ درېدل"(5).

هم دارنګه د مومن خان او شيرينو په نکل کښې چې مومن خان هندوستان ته ځي، هلته د يوۀ زرګر پر دوکان ناست دی او يوه پېغله چې پر اوښ سپره ده، چې په بازار کښې تېرېږي، نو پر ځوانانو داسې رږغ کوي:

"ځوانانو تنګ راباندې وکړئ
پلار مې مغل دی ما ښامار لره لېږينه(6)"

په ادم خان او درخانۍ په نکل کښې چې کله دوه مين ادم او درخانۍ سره يو ځای کېږي، ادم خان زيات لمر وهلی دی او پر درخانۍ باندې داسې ناره کوي:

"درخو نن دې مېلمانۀ يو + درته وايم مغل نۀ يو پښتانۀ يو
ستا په جام کښې اوبۀ راوړه + درخانيه برنۍ د تندې مړۀ يو(7)"

همدغه ډول په اولس کښې اوس هم د اتڼ يوه غاړه داسې مشهوره ده:

مستانې! مغل نۀ يو پښتانۀ يو
يو غوړپ د اوبو راکه
مستانې! برني له تندې مړۀ يو

په دې ټولو نارو او غاړو کښې مغل د يو ظالم په توګه ښودل شوی دی. پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار "مغل او مغلواله" مونږ ته په داسې ټکو کښې بيانوي:

"اوومه اسلامي يا دیارلسمه عيسايي پېړۍ نۀ يوازې د افغانستان او نورو اسلامي هېوادونو، بلکې په ټول بشري تاريخ کښې د يوۀ تور او کرغېړن داستان پېلامه ګڼل کېږي، چې يې په نړېواله کچه پېژندل شوې خونړې چنګېز زمونږ پر لرغوني ارياني اري ساکي ستې اولس راتپلی دی، پښتني ولس د لرغوني آريانا، منځني خراسان او اوسني افغانستان د يوه يوازيني ارو رښتيني ژبتوکميز پاتوړي (وارث) په توګه له هغه راهيسې تر هر نومېشتې لره کي، له نوموړي توکم سره نۀ

پخلا کېدونکې پاته شوې، که په هغه لومړي سر کښې یې په خپله له چنګېز او هلاکو سره ډغرې وهلې، راوروسته یې د هغوی له ځایناستو ګورګانیانو سره خپل زور پرله پېیلی ازمایلی او د ماتو او بریو یو ګڼ داستان یې ورسره د خپل لرغوني تاریخ پر بې شمېرو داستانونو ورزیات کړی دی.

کومې اغېزې چې مغلي ناتار له چنګېزه تر انګرېزه د پښتني ټولنې پر توکمیزې او مانیزې هستۍ راپرې ایستې، لږ تر لږه د سیمې په کچه بې ساري دي، تر دې چې دا دومره پېړۍ یې پښتني فولکلور او ادب هم تر سېوري لاندې راوستي دي او مغل او مغلواله په کښې د دښمن او دښمنۍ د سیمبولونو په توګه انګازه شوي دي"(8).

همایون همدرد په خپل کتاب "پښتو ادب کښې مغلواله" کښې د مغلوالي په باب کاږي:

"په پښتو ادب کښې د "مغلوالي" علامت د مغلو د زور، ظلم او بې انصافۍ په سوب رواج موندی دی. د پښتو ادب په حواله چې د مغل اول اول ذکر راځي نو هغه متل دی چې وخت په وخت پښتنو د مغلو د یوې خاصې رویې واقعې په مناسبت جوړ کړی دی چې د هغوی ټول کردار او خوی احاطه پکښې کېدی شي، مثلاً د پښتو دا متل چې: "کور دې مغلو وهلی دی څۀ"(9).

پورتنی متل د پښتو په ځینو سیمو کښې بیا په دې ډول هم وئیل کېږي:

"څه مغل دې پر کور ختلي دي".

په پښتو لنډیو (ټپو) کښې هم د مغل ټکی په دې ټول وینو:

"د پورته رامشې مغله + زما د سر رویۍ دا ستا قلنګ کښې ځینه
د پېښور سور سات یې ټول کړو + د مغلګۍ د تنکۍ لعل ترې جوړوینه"(10)

کاکړۍ غاړه ده چې:

"یوار مغل وو اوس ګورګیان
پښتانۀ مړۀ پر خراسان"(11)

د مغل ټکی په لومړي ځل هوتک بابا کارولی دی، هوتک بابا د مغلو پر ضد په ډېر مېړانه جنګېدلی دی او د جنګ هغه حالت یې په "پټه خزانه" کښې داسې بیان کړی دی:

"پر سور غر بل راته نن اور دی
وګړیه جوړ راته پېغور دی
پر کلي کور باندې مغل راغی
هم په غزني هم په کابل راغی
غښتلیو ننګ کړه دا مو وار دی
مغل راغلی په تلوار دی

په پښتونخوا کښې ناتار دی
پر کلي کور باندې مغل راغی(12)"

تر هوتک بابا راوروسته اکبر زمینداوري له ګوډ تیمور څخه سر ټکولی دی او وایي چې:

"د مغلـــو تیمـــور هســـې پـــه اور وســـوم
چـې بـه هېـر پـه دا مـاتم زمینـداور کـړم(13)"

پیر روښان او د ده تحریک د مغلو پر ضد کلک مقاومت کړی دی، د مغلو پـه اړه د دولت لواڼي او نورو شاعرانو په شعرونو کښې ډېر څرګونه موندل کېږي.

تر پیر روښان راوروسته خوشحال خټک چې د توري او قلم خاوند دی، د خپل پلار تـر مـرګ وروسته چې د قوم مشر وټاکل شو د مغلـو ملګرتیـا پـه میـراث کښـې ورپاتـه وه، خو کله چې مغلـو د پښتنو داخلي ازادي د سلب کېدو هڅې رواني کړې خوشحال خټک دغه چېري زغملی شوای، نو پـه دې اړه یې خپل تدبیرونه نیول او بیا چې اورنګ زېب پاچا شو، هغه په یوه پلمه او بله پلمـه خوشحال خان ونیو او هند د رنتهمبور په کلا کښې یې بندي کړو. دلتـه د خوشـحال خـان پـه خیـالاتو او تفکراتو کښې نور هم زیات تغیر راغلی او په زندان کښې یې پرېکړه وکړه چې مغل په هیڅ صـورت کښـې نـور پر دې خاوره نۀ پرېږدم چې له زندان څخه راخلاص شو نو یې په ډاګه ووئیل:

"پـــس لـــه بنـــده دی دا عـــزم
د خوشـــحال د خـــاطر جـــزم
یـــا نیـــولی مـــخ مکـــې تـــه
یـــا مغلـــو ســـره رزم"(14)

د خوشحال خان د مبارزې په باب اروابناد عبدالروف بېنوا په خپـل اثـر "خوشـحال خټـک څۀ وایي؟" کښې داسې لیکي:

"خوشحال خان په پښتنو کښې ملي روح ژوندی وساتۀ او پښتنې ننګ ته یې ملتـف کـړه او د پښـتونوالي دښمنانو د مقابلې دپاره یې ډېر زلمي وروزل. د خوشحال خان او ویښو پښتنو مخالفت له مغلو سره د دې خبرې دپاره نۀ ؤ چې مغل دې بلکې د خوشحال خان یا د نورو پښـتنو مخالفـت د هنـد له مغلو سره پر دې خبره وو چې هغـوی د پښـتنو پـر حق تجـاوز کـاوۀ. د دوی طبعـي حق ازادي یـې نـۀ منله، حتی د پښتنو پر موجودیت قایل نۀ وو، بلکې غوښته یې چې پښتـانۀ او د پښتنو ځمکه په نورو پورې ونښلوي او پښتانۀ د ځان یا پنجابیانو مریان یا نوکران کړي. څنګه چې ځیني ساده پښـتانۀ یـې هم په پېسو او منصبو غولولي وو او پښتني ننګه یې د دوی له یاده ایستلې وه، نو ځکه خوشحال خان او ځیني ویښ پښتانۀ د هغوی د بدنیت مقابلې ته پاڅېدل او فقط پښتو او پښـتونوالي او پښـتونخوا د

موجودیت دپاره یې د همت ملا وتړله او خپل ننګیالي زلمیان یې په دې لاره کښې قربان کړل، نو که د مغلو پر ځای بل څوک وای چې د پښتنو پر حق یې تجاوز کولی هم خوشحال خان او نورو ویښو پښتنو د هغه مقابله کوله، ځکه چې د پښتونوالي قانون د بل چا تجاوز نهٔ مني هر څوک چې وي"(15).

خوشحال خان چې د مغل له زندان څخه راخلاص شو د افغان په ننګ یې توره اوچتوله نو په دغه جریان کښې په دې وئیلو مجبور شو:

"پښـــــتنو ســــره زړهٔ تــــور دی د مغلــــو
خبــردار یــې پــه نیتونــو یــک پــه یــک یــم
پــه نــاحق یــې پــه زنــدان کــړم یــو څــو کالــه
خــدای خبــر دی کــه پــه خپلــه ګناه شــک یــم
لکــه بــاز پــه لــوی لــوی ښکار زمــا نظــر دی
نــه چــې ګرځــي ګونګټ نیســتي بــاد خــورک یــم
چــې نیــولی مــې دا هــوډ د ننــګ و نــام دی
کــــه لـــه خپلــــه هــــوډه واوړم کنیــــزک یــــم
د افغـــــان پــــه ننــــګ مــــې وتړلــــه تــــوره
ننګیـــالی د زمـــانې خوشـــحال خټـــک یـــم(16)

له دې وروسته خوشحال خټک ټولو پښتنو ته نصیحت کوي چې د مغلو منصبونو، انعامونه او نور څیزونه مونږ ته په هیڅ درد نهٔ خوري، ځکه خو ورته وایي:

"دا منصــــــــوبونه دا انعامونــــــــــــه
واړه زنــــــــدی، دې واړه دامونــــــــــه
پښــتون مغــل بــه سـره دوسـت نـهٔ شــي
خوشــحال یــې مــه وینــه دا نعامونــه(17)

خوشحال خټک د اورنګ زیب په باب ټولو پښتنو ته په ډاګه او ښکاره وایي چې لـه اورنـګ زیب سره د اسلام هیڅ غم نهٔ شته او پر دې ځان مه تیر باسئ چې اورنګ زیب مسلمان دی، بلکې هغه یو جابر او ظالم حکمران دی، ځکه خو خان وایي:

"چــې پــه نــام پښــتون غــوڅېږي پــرې خوښــېږي
اورنـــګ زیـــب هســـې بادشـــاه دی د اســـلام(18)

خوشحال خان خټک د هغو پښتنو چې د مغلو تالی، څټ دي او پښتونواله یې پرې ایښې وه او د مغلوالي په طرف ولاړ دي، د دغو په باب خان وایي:

"پښــــتانهٔ لکـــه مګـــس ورباڼــدې ګرځـــي
ورتـــه ایښـــی د مغـــل د حلـــوا تـــال دی(19)

بل ځای وایي:

"چـــې ښـــورا خـــوري د مغلـــو واړه ســـپي دي
د ســـګانو پـــه خولـــهٔ څـــهٔ اخلـــم نومونـــه(20)

کله چې خان و دې نتیجې ته وررسېږي چې نور مغل د انسانیت لاري ته نهٔ را اوړي او د ظلم او جبر لاره نهٔ پرېږدي نو بیا دی د پښتونوالي لوري په کلکه نیسي او وایي:

"و مغـــل وتـــه بـــه هســـې کـــار ښـــکاره کـــړم
چـــې راضـــي راڅخـــه روح د فریـــد خـــان شـــي(21)

او بل ځای وایي:

"زهٔ غلـــیم د اورنـــګ زېـــب یـــم
ســـر پـــه غـــرهٔ پـــه بیابـــان
هنګامـــه ده لاپـــه مـــنځ کښـــې
د مغـــــــل او د افغـــــــان(22)

خوشحال خان ختک او نورو ننګیالو پښتنو لکه ایمل خان مومند او دریا خان او د هغو په زرګونو غښتلیو ملګرو یو شمېر جنګونه کړي دي او خپله مېړانه یې د جابر او مغل حکمرانانو په وړاندې ښکاره کړې ده، ځینو جنګونو او مېړانو ته خوشحال خان ختک داسې اشاره کړې ده:

"درســـت پښـــتون لـــه کنـــدهاره تـــر اټکـــه
ســـره یـــو د ننـــګ پـــه کـــار پـــټ او اشـــکار
اول جنـــګ د لـــــوړې شـــــا د تهتـــــرو ؤ
چـــې څلوېښـــت زره مغـــل شـــول تـــار پـــه تـــار
خوینـــدې لـــوڼې یـــې پـــه بنـــد د پښـــتنو شـــوې
اس، اوښـــان، هاتیـــان اولجـــه قطـــار قطـــار
بیـــا لـــه پســـه د "نوښـــهره" د کـــوټ جنـــګ و
چـــې مـــې وکـــیښ تـــر مغلـــو خپـــل خمـــار
اورنـــګ زېـــب راتـــه یـــو کـــال وشـــو چـــې پـــروت دی
پـــه صـــورت حېـــران پرېشـــان پـــه زړهٔ افکـــار

کـــال پـــه کـــال یـــې امراګـــان دي چـــې پرېـــوزي
طوفـــاني چـــې شـــوې لښـــکرې کـــوم یـــې شـــمار
خزانـــــې د هندوســـــتان دي راخپـــــرې شـــــوې
ســـــرۀ میـــــران دي تنـــــوخي پـــــه کوهســـــار
دا د هیچـــــا پـــــه اتلـــــس فکـــــره نـــــۀ ؤ
چـــــې بـــــه دا کارونـــــه وشـــــي پـــــه دا دیـــــار
د بادشـــاه د بـــد نیتۍ څـــۀ کمـــی نـــۀ شـــته
پـــه بـــد نیت یـــې آزار واخیســـت د خپـــل پـــلار
بلـــه هـــیڅ لیـــدلی نـــۀ شـــي پـــه دا مـــنځ کښـــې
یـــا مغـــل د منځـــه ورک یـــا پښـــتون خـــوار (23)

د مغلوالي په ضد نظریات بیا پښتو شاعري کښې خورا زیات شو، لکه وړاندې چې ووئیل شو چې مغلواله لفظ په لومړي ځل په شاعري کښې حمید بابا راوړی دی، حمید بابا هم دغسې د مغلو په اړه په خپله شاعري کښې ځای په ځای نور هم ړغېدلی دی، لکه:

"پـــه تمـــام جهـــان قـــراره قـــراري ده
پـــه حمیـــد د غـــم مغـــل راوخاتـــۀ (24)

"کـــه پـــه نـــور وګـــړي ظلـــم د مغـــل دی
خـــدای غمونـــه کـــړل د ســـتا مغـــل زمـــا (25)

"تـــا مـــې رنـــګ هســـې لـــه صبر ســـره وران کـــا
لکـــه وران لـــه پښـــتنو وي د مغـــل رنـــګ (26)

له دې پرته د پښتو صوفي شاعر رحمان بابا هم د مغلو ظلم ته اشاره کړې ده:

"پـــه ســـبب د ظالمـــانو حاکمـــانو
کـــور او اور او پېښـــور درې واړه یـــو دي (27)

د پښتو یو بل نازک خیاله شاعر علي خان هم د مغل ذکر کړی دی.

"د کـــوځې ګـــوټ بـــه دي پـــرې نـــږدم رقیـــب تـــه
اپرېـــدی یمـــه مغـــل تـــه خبـــر نیســـم (28)

د پښتون یو بل کلاسیک شاعر پیر محمد کاکړ هم غماز او مغل یو شان ګڼي، څکه خو وایي:

"غمـــازان چـــې دلســـوزي پـــه عاشـــق نـــهٔ کـــا
غمـــازان، ګبـــر و مغـــل درې واړه يـــو دي(29)

له دې شاعرانو پرته د پښتو يو شمېر کلاسيکي شاعرانو مغل او مغلوالې ته په خپله شاعري کښې اشارې کړي او د مغلو ظلمونه يې په کښې بيان کړي دي، چې دلته پر ټولو شاعرانو خبره کوم نو بيا خبره ډېره اوږدېږي، خو زهٔ د دوی ښاغلو له ارواحو څخه په بخښنه دلته ډېره کوم او د اوسني عصر شاعرانو ته راځم، په پښتو ادب کښې مغلواله علامت اوس يوه منل شوې علامت دی او تر مغلو راوروسته د پښتنو ټولو دښمنانو ته چې د پښتنو پر مځکه يې يرغل کړی دی او د پښتنو مځکې او وطنونه يې لاندې کړي دي، پښتنو دغه دښمنان لکه انګرېزان او سکهان دغه ټول په مغل سره يادوي، خو اروابښاد حمزه خان شينواري د پېرنګيانو ظلم ته پېرنګواله نوم ورکړی دی، په خپل يو شعر کښې پېرنګواله داسې يادوي:

"پـــه پېرنګوالـــه هســـې خولـــهٔ پـــاکوي
ښـــه پښـــتنه مـــې د زلمـــو ژبـــه ده(30)

او د شلمې او يويشتمې پېړۍ ډېرو شاعرانو مغل او مغلواله په خپلو شعرونو کښې ياده کړې ده، زهٔ له نورو شاعرانو له شعرونو څخه ډډه کوم او يوازې د پښتو پر څلورو تکړه شاعران لکه اجمل خټک، حمزه بابا، قلندر مومند او سيف الرحمان سليم پر شعرونو رڼغېږم. هغه څکه چې يو خو دوی زمونږ د پښتو نمائنده شاعران دي.

اروابښاد اجمل خان خټک په يوه قطعه کښې د مغلوالې په باب داسې نظر څرګندوي:

"چـــې نشـــه د اســـتبداد لـــري پـــه ســـر کښـــې
ماتـــه يـــو دی کـــه مغـــل دی کـــه افغـــان
چـــې زمـــا د کـــور ازغـــي تـــه کـــاږهٔ ګـــوري
ويمـــه اور شـــوې د هغـــهٔ پـــه ګلســـتان(31)

اجمل خټک په دې قطعه کښې د استبداد مخالفت کوي په پښتو ادب او تاريخ کښې چونکې مغل د استبداد د يوه علامت په توګه موجود دی، خو اجمل خټک بيا وايي چې که دا استبدادي رويې په افغانانو کښې وي نو د هغه لپاره دغه افغانان د مغلو برابر دي او د هغه افغان لوری نهٔ کوي چې په خوی او بوی د مغلو په څېر وي.

اروابښاد حمزه خان شينواری مغل لفظ په خپله شاعري کښې استعمال کړی دی، چې څو شعرونه يې دلته راوړم.

"نـــن يـــې حمـــزه نـــۀ ؤ اتحـــاد د بتهـــو
يـــو د پښـــتانۀ بـــل د مغـــل خبـــره وکـــړه(32)

يا دا:

"د مغلـــو يرغلګـــرو وېـــره نـــۀ شـــته
کـــه خواخـــوږې د خپـــل قـــام لکـــه بهلـــول شـــې
ســـرلوړي دې د پښـــتونه کـــه زده نـــۀ کـــړه
حمـــزه! پوهـــه شـــه چـــې غـــلام بـــه د منګـــول شـــې(33)

قلندر مومند چې په خپل دور کښې يو سياسي مخکښې ؤ، هغه د وخت مغلو زندانونه هم ليدلي دي، هغه په خپله شاعري کښې مغل ياد کړی دی، خو زۀ تش د دۀ له نظم "زۀ تنقيد خو به کومه" نظم څخه درې بنده رااخلم.

"چـــې پـــه ګرانـــه پښـــتونخوا مـــې مغلتيـــا کـــړي چپاوونـــه
لـــه ننګرهـــاره تـــر بولانـــه پـــه پښـــتون اوري اورونـــه
د منـــدنړو پـــه رغـــو کښـــې مغـــلان کـــړي اتڼونـــه
د ســـپين غـــر پـــه ســـپينو څوکـــو رابنـــکاره شـــي ظلمتونـــه
د خيبـــر پـــه ســـردرو کښـــې چـــې بـــې کـــوره شـــي بازونـــه
پيـــروي د قـــام د ننـــګ د بايزيـــد خـــو بـــه کومـــه
زۀ تنقيـــد خـــو بـــه کومـــه

د پښـــتون پـــه کـــور او کلـــي چـــې د زور اورونـــه بـــل شـــي
چـــې انګريـــز راتـــه اورنـــګ شـــي او پيرنـــګ راتـــه مغـــل شـــي
پـــه لړمـــون د پښـــتونخوا کښـــې چـــې راســـيخ د ظلـــم شـــل شـــي
چـــې پـــه خپـــل کـــور کښـــې مـــې وژنـــي سترګـې غتـې د هـــر غـــل شـــي
باچـــا خـــان چـــې بيـــرغ واخلـــي او اولـــس ورســـره مـــل شـــي
نـــو د پـــت پـــاللو قـــام تـــه زۀ تاکيـــد خـــو بـــه کومـــه
زۀ تنقيـــد خـــو بـــه کومـــه"(34)

اروابـاد سيف الرحمـان سليم د پښـتو ژبې ترقي پسند او قـام پـال شـاعر ؤ، هغـه پـه خپلـه شاعري کښې د خپل وخت د مغلو ذکر په خپله شاعري کښې په وار وار کړی دی، تاتره ته يې يوه قطعه ليکلې ده:

"چې مې ویني نو له ویرې ټول ریږي
هر مغل مې په زلزل کړو زلزله یم
د پښتون د غېرتونو خزانه یم
خلقه وپېژنئ ما زۀ تاتره یم(35)

د پښتنو په باب وايي:

"پښتانۀ د پښتونخوا درانۀ ښاغلي
د مغلو سېلاب یوړل لکه خلي(36)

ښاغلی سېف الرحمان سلیم چې کله د وخت د مغل په وړاندې د پښتنو ښځې بې عزتي ويني نو پټه خولۀ چرې پاتېږي او پښتنو ته وايي چې خپله قافله چې درته وېدۀ نۀ شي، ځکه چې وخت او حالات ډېر خطرناک دي.

"دی مقام د خطرې
اودۀ نۀ شې قافلې
سترمنې پښتنې
کړي مغلو ته مجرې(37)

بل ځای بیا وايي:

"نن مې د مغلو په محفل کښې پورته نۀ کتل
نن چې مې په مخکښې پښتنه په چورلکونه شوه(38)

سلیم صاحب بیا بل ځای وايي:

"د مغلو په رمو کښې امزری یم
پښتنو ته د پیشو نه هم مسکین یم(39)

یا دا چې:

"تاسره مغله د پښتون وروروليي نۀ کېږي
ستا په زړۀ کښې کرکه د پښتون په زړۀ کښې مینه ده(40)

خوشحال خان خټک لا په خوا وئیلي وو:

"د پیپلو پانې خوره په غرۀ کښې اوسه
نۀ چې پان د هندوستان خورې زما جنده(41)

په دې باب ښاغلي سیف الرحمان سلیم د خپل نوي نسل حال په داسې ټکو کښې بیانوي:

"خولــۀ خـــو د مغلـــو ځکــه ســـره شـــوله
نـــن چـــې تـــاتره هـــم پـــان خـــوره شـــوله
ســـر نـــه د ختکـــو پګـــړۍ پرېوتـــه
نښغـــه د مغلـــو ټُرتُـــره شـــوله
ځـــان یـــې د مغلـــو هـــم نســـبه کـــړو
جـــوړه مـــې اوس نـــوره شـــجره شـــوله(42)

سیف الرحمان سلیم چې کله د خپل دور هم عصر شاعر اروابناد اشرف خان مفتون شعر واوري نو هغه یې ډېر ودردوي او د هغه شعر په تاثر کښې په خپل نظر په یوه بشپړ نظم کښې ځرګندوي، هغه نظم دلته راوړم چې له دې موضوع سره بشپړ سمون خوري.

"نوټ: د اشرف مفتون د دې شعر په تاثر:

معتقـــد پـــه حقیقـــت کښـــې د انســـان د شـــرافت یـــم
خـــدایګو یـــو شـــان راتـــه ښـــکاري پښـــتانۀ دي کـــه مغـــل

افـرین شـه پـه مفتـون :: هـم مغـل دی هـم پښـتون
یـوه سـترګه یـې قصـابه :: بلـه سـترګه یـې د شـپون
اور اوبـۀ یـې سـره یـو کـړل :: زمـونږ نـوي افلاطـون
دی پـه هـر انسـان مئین دی :: کـه موسی وي کـه قـارون
د مغلـو تـر نظـره.....! :: دې خدای تېر کړي دا مضمون
لوی منصب به ورعطا کړي :: وي اورنګ بـه یې ممنون (43)

اشرف مفتون په خپل شعر کښې د انساني شرافت قایل دی، انساني شرافت که په پښتون کښې وي او که په مغل کښې وي، دواړو ته په یوه نظر ګوري او نسل ته ارزښت نۀ ورکوي، بلکې انساني خوی بوی ته ارزښت ورکوي، او په دې پېمانه باندې مغل او پښتون دواړه لیدل غواړي خو سیف الرحمان سلیم مغل د پښتنو په تاریخ او ادب کښې د استبداد د یو مستقل علامت په توګه لیدل غواړي او د داسې تشریحاتو قایل نۀ دی چې دغه علامت ته زیان رسوي، لکه اشرف مفتون چې په مغلو انسانانو کښې د اسبتداد په ځای د انساني شرافت امکان او ګنجائش همویني.

ښاغلی سیف الرحمان سلیم چې د خپل وخت د جومات او مکتب حال ته ګوري او ویني چې پښتو او پښتونواله په کښې نۀ شته نو بیا په داسې وئیلو مجبور شي.

"د جومـــات اســـتاد عـــرب دی، پـــه مکتـــب کښـــې ډهلـــي وال دی
یـــو اســـتاد رالـــه پېـــدا کـــه خـــو پښـــتون رالـــه پېـــدا کـــه(44)

او بل ځای د دې مکتبونو په اړه چې يوازې او يوازې پرېدی تاريخ زمونږ نسلونو ته په کښې ښودل کېږي نو بيا دغه شاعر پټه خولهٔ نهٔ شي پاته کېدلی.

"نـوی کـول بـه خپـل ماضـي نـه منحـرف کـړي
پښـــتونخوا کښـــې د مغلـــو مکتبونـــه(45)

دا ؤ په پښتو شاعري کښې د مغل، مغلواله، مغلتيا يادونه چې دلته مې په لنډو لنډو ټکو کښې يادونه وکړه، کنې پر دغه موضوع باندې بشپړ بشپړ کتابونه ليکل کېدلی شي، خو زما موخه تش په پښتونواله او مغلواله سره بېلېدل وو. دا دې اوس څرګنده شوه چې پښتنو مغلواله د ظلم، جبر، زياتي، تېري او د پښتونوالي ضد په معنا اخستې ده او دا له خوشحال خان خټک او حميد بابا څخه يې رانيولې بيا تر اوسه پوري څهٔ زيات درې پېړۍ تېر شوي دي، خو په پښتنو او پښتو ادب کښې مغلوالي اصطلاح پوره ځای موندلی دی. مغلواله که څهٔ هم د مغلو ته منسوب علامت ده، خو دغه بيا پښتنو د خپلو نورو يرغلګرو دښمنانو چې پر پښتنو يې ډول ډول ظلمونه کړي دي او يا ظلمونه روان دي، د هغوی له پاره هم دغه د مغل او مغلواله لفظ کارولی دی.

***

# حوالې


(1) پښتو پښتو تشريحي قاموس، چاپ ۲۰۰۵ء، مېدوتيک افغانستان، ۲۸۹۲ مخ.

(2) همدغه اثر، ۲۸۹۷ مخ.

(3) رفيع، حبيب الله، ژبساتنه، مومند خپرندويه ټولنه جلال آباد، ۱۳۹۴ لمريز، ۱۱۹ مخ.

(4) شاهين خټک، مغلواله، غنچه پېښور، ۱۵ دسمبر ۱۹۲۰ء، ۷ مخ.

(5) نوري، محمد ګل، ملي هنداره، چاپ درېم، ۴۱، ۴۲ مخونه.

(6) نوري، محمد ګل، ملي هنداره، درېم چاپ، د اطلاعاتو او فرهنګ رياست کندهار، ۲۰۱۰م، ۱۵۳ مخ.

(7) هم دغه، ۳۲۴ مخ.

(8) مجاور احمد زيار، پښتو او پښتانهٔ د ژبپوهنې په رڼا کښې، چاپ ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز، ۲۰۰۱ء، پېښور، ۲۷۰، ۲۷۱ مخونه.

(9) همدرد، همايون، پښتو ادب کښې مغلواله، چاپ پښتونولي ټولنه خوېشکي نوښار، جنوري ۱۹۹۸ء، ۱۷ مخ.

(10) همدرد، همايون، پښتو ادب کښې مغلواله، ۱۹ مخ.

(11) ژړک، محمد صادق، کاکړۍ غاړي، چاپ ۲۰۱۰ء، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، ۲۲ مخ.

(12) هوتک، محمد، پټه خزانه، چاپ علامه رشاد خپرندويه ټولنه کندهار، ۱۳۹۰ ش، ۵۲، ۵۷ مخونه.

(13) همدرد، همايون، پښتو ادب کښې مغلواله، ۳۰ مخ.

(14) خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کليات، د مشواني په زيار، دوهم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۰۸م، ۸۲ مخ.

(15) بېنوا، عبدالروف، خوشحال خټک څهٔ وايي؟، څلورم چاپ، صحاف نشراتي موسسه کوټه، ۱۳۸۹ل، ۴۱، ۴۲ مخونه.

(16) خټک، خوشحال خان، د خوشحال خټک کليات، د مشواني په زيار، مخ ۵۷۸، ۵۷۹.

(17) همدغه اثر، ۵۷۵ مخ.

(18) همدغه اثر، ۲۴۳ مخ.

(19) همدغه اثر، ۲۱۱ مخ.

(20) همدغه اثر، ۲۳۱ مخ.

(21) همدغه اثر، **۵۸۲**، **۵۸۸** مخونه.
(22) هم دغه اثر، مخ125.
(23) خټک، خوشحال خان،د خوشحال خان خټک کليات، د مشواني په زيار، **۵۵۴**، **۵۵۵** مخونه.
(24) مومند، عبدالحميد، د عبدالحميد مومند کليات، دوېم چاپ، د آصف صميم په زيار، دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۷ء، **۱۵۲** مخ.
(25) هم دغه، ۱۲ مخ.
(26) هم دغه، ۱۱۱ مخ.
(27) رحمان بابا، د رحمان بابا کليات، ترتيب: حنيف خليل، چاپ دانش خپرندويه ټولنه پېښور، 16مخ.
(28) علي خان، د علي خان کليات.
(29) کاکړ، پير محمد، د پير محمد کاکړ ديوان، ترتيب: عبدالروف بېنوا، چاپ صحاف نشراتي موسسه ۲۰۱۱، ۱۳۹ مخ.
(30) شينواری، حمزه، د حمزه شينواري کليات، لومړی ټوک، ترتيب: محمد آصف صميم، چاپ ۱۳۸۷، د افغانستان د اطلاعات او فرهنګ وزارت، **۱۸۵** مخ.
(31) خټک، اجمل، د غېرت چغه، يونيورسټي بک اېجنسي، ۲۰۱۰ء کال، پېښور چاپ، ۱۴۴ مخ.
(32) شينواری، حمزه، د حمزه شينواري کليات، لومړی ټوک، **۲۲۴** مخ.
(33) همدغه اثر، **۵۴۴** مخ.
(34) مومند، قلندر، پښتو ادب کښې مغلواله، همايون همدرد، چاپ پښتونولي ټولنه، خوېشکي نوبنار، جنوري ۱۹۹۸، ۲۳، ۲۴ مخونه.
(35) سليم، سيف الرحمان، د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم، چاپ يونيورسټي پبلشرز پېښور، ۲۰۰۸، ۳۲ مخ.
(36) همدغه اثر، ۷۰ مخ.
(37) همدغه اثر، **۴۹** مخ.
(38) همدغه اثر، ۱۷۳ مخ.
(39) همدغه اثر، **۵۷** مخ.
(40) همدغه اثر، **۵۸** مخ.
(41) خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کليات، ۱۳۲ مخ.

(42) سليم، سيف الرحمان، د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم، يونيورسټي پبلشرز پېښور، ۲۰۰۸ء، **۲۰** مخ.
(43) همدغه اثر، **۱۵۴**، **۱۵۵** مخونه.
(44) همدغه اثر، **۱۷۵** مخ.
(45) همدغه اثر، **۲۰۴** مخ.